# <u>د مطبوعاتي اعلامیه</u>

## د اوربند تړون که د صهیونیستي رژیم د ساتنې او امنیت د تضمین تړون؟

## (ژباړه)

ملعون رژیم او د لبنان حکومت د اوربند د تړون په اړه خپل توافق اعلان کړ. نتنیاهو په هغې وینا کې چې د خپل حکومت د دغه تړون د تصویب په اړه یې وکړه، څرگنده کړه چې په لبنان کې د اوربند یو دلیل د جبهو جلا کول دي، یعنې د لبنان جبهه د غزې له جبهې څخه جلا کول.

د امریکا په لارښوونه او د ایران د حکامو په موافقه د لبنان او دغه جنایتکار رژیم ترمنځ د اوربند تړون لاسلیک شو. دا په داسې حال کې ده چې یهود له لبنان څخه ونه وتل او ان د تړون له مخې دا حق ورکړل شوی چې د ځان د دفاع په پلمه برید وکړي! دغه تړون جنوبي لبنان له هر هغه فعالیت څخه خوندي سیمه گرځوي چې د صهیونیستي رژیم امنیت ته زیان ورسوي. سربېره پر دې، د لبنان د پوځ رول د دغه جنایتکار رژیم د ساتونکي په توگه دی!

داسې یو ستر خیانت د بریا په توگه ښودل کېږي. له دغه تړون سره د صهیونیستي رژیم جنایتکار مشر خپله شمالي جبهه خوندي کړه، نو ولې به خوښ نه وي؟ په ورته وخت کې د فلسطین سپېځلې خاورې خلکو ته ویل کېږي چې تسلیم شي، د خپلې سپېځلې خاورې بایللو ته راضي شي او د فلسطیني ادارې او د امنیتي جوړښت په څېر رول ولوبوي.

الله سبحانه وتعالی دې له تاسو، د مسلمانانو حکامو، سره وجنگېږي! الله سبحانه وتعالی مو په خپل ذلت، رسوایۍ او خیانت کې وشرموه. ایا د ملعون رژیم د جنایتونو پر وړاندې مو ځواب دغه دی؟ د دې پر ځای چې په مصر، اردن، لبنان او شاوخوا هېوادونو کې د مقاومت اور بل کړئ، پوځونه مو بې حرکته کړي او هغوی ته مو اجازه نه ده ورکړې چې د غزې او لبنان د مرستې او د صهیونیستي رژیم د ریښو د ایستلو لپاره حرکت وکړي. بیا، د لبنان حکومت ته دغه له خیانت څخه د ډک تړون د لاسلیک مبارکي ورکوئ، د لبناني پوځ مکلفیت د مصر او اردن د پوځونو په څېر کوئ چې د صهیونیستي رژیم امنیت خوندي کړي او د غزې خلک د نابودۍ په گرداب کې پرېږدي چې د دغه ملعون رژیم لپاره یو اسانه ښکار وي؛ لکه څرنگه چې د دغه تړون له مخې تاسو امریکا او صهیونیستانو ته وایاست چې که تاسو د غزې له خلکو، نارینه‌وو، ښځو، ماشومانو او سپین ږیرو سره هر څه کوئ، موږ بشپړ واک درکوو او پر وړاندې به مو هېڅ حرکت ونه کړو.

د غزې د خلکو حال داسې دی چې مرغان يې په حال ژاړي. ايا ستاسو زړونه نه نرمېږي؟ اې د مسلمانانو د ځمکو د قدرت او ځواک خلکو! تاسو څنګه د اسلام عسکر ياست، د "لا اله الا الله محمد رسول الله" کلمه واياست، خو د ماشومانو چيغې، د وږې لړزې او غرېو نيولي ستوني مو په حرکت نه راولي!؟

ايا وخت يې نه دی رارسېدلی چې دغه زړونه د الله سبحانه وتعالی په يادولو نرم شي؟ ايا وخت يې نه دی چې د دغو سترو پېښو او هغو سختو کړاوونو پر وړاندې چې ستاسو وروڼه يې په غزه کې ګالي، تاسو هم نرم شئ؟ ايا د دې وخت نه دی رارسېدلی، چې تاسو خپله چوپتيا ماته کړئ او له خپلو حکامو څخه لوړ شئ؛ لکه څنګه چې ابن مسعود د ابو جهل پر سينه پورته شو او د خيانت ګناه او په بريا او جګړه کې د مخ اړولو شرم يې له منځه يووړ؟ ايا د دې وخت نه دی رارسېدلی چې دغې پريمانه بې‌عزتۍ او سپکاوي ته د پای ټکی کېښودل شي!؟

ايا د دې وخت نه دی رارسېدلی چې تاسو د خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم د معراج ځای او سپېڅلې ځمکې په ازادولو، نړۍ ته د محمد صلی الله عليه وسلم د عسکرو همت ښکاره کړئ؟ ايا ستاسو زړونه د عزت ژوند، د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جهاد او د مخکينيو غوره کسانو ځايناستي کېدو لپاره تږي نه دي؟ داسې چې د الله سبحانه وتعالی په فتح خوشالي وکړئ او خپل امت ته خوشالي ورکړئ.

**«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿۱۰﴾ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۱۱﴾ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿۱۲﴾ وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ مِنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۳﴾»** [صف:۱۰-۱۳]

**ژباړه:** *«اې مومنانو، ايا تاسو ته هغه تجارت ونه ښيم، چې له دردناک عذاب څخه مو ژغوري. پر الله سبحانه وتعالی او د هغه پر پيغمبر صلی الله عليه وسلم ايمان راوړئ او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې په خپلو سرونو او مالونو جهاد وکړئ. که تاسو پوهېږئ، نو دا ستاسو لپاره غوره تجارت دی. الله سبحانه وتعالی به ستاسو ګناهونه وبښي او تاسو ته به هغه جنتونه درکړي چې ترې لاندې ويالې بهېږي او په دايمي جنتونو کې به غوره استوګنځي درکړي او دا تر ټولو ستره بريا ده. هغه بل نعمت (دنيوي نعمت) چې تاسو يې خوښوئ، هغه به هم درکړي، د الله سبحانه وتعالی نصرت او فتحه ډېره نيږدې ده او مومنانو ته زيری ورکړه.»*

**د فلسطين په سپېڅلې خاوره کې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۶ هـ.ق کال، د جمادي الاول ۲۶مه**

۲۸مه نومبر د کال، ۲۰۲۴م

د صدور گڼه: ۱۲/ ۱۴۴٦

ژباړن: اسرار تکل